CPAG

گروه دادخواهی حفاظت از افراد ملکی

د ملکي وګړو خونديتوب او عدالت غوښتني ګروپ

Civilian Protection Advocacy Group

# د ملکي وګړو د خونديتوب او عدالت غوښتني ګروپ

(CPAG)

**کابل: 2/5/2018**

## مطبوعاتي اعلاميه

**تېره اپريل مياشت کې نيږدې (۵۰۰) کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده**

د ملکي وګړود خونديتوب اوعدالت غوښتني ګروپ (CPAG) موندنې ښه يي چې د روان زيږديز کال د اپريل له لومړۍ څخه تر ۳۰ نيټې پورې د افغانستان په ۲۳ ولايتونو کې شاوخوا (۵۰۰ ) ملکي کسان ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

دتېرې اپريل مياشتې په اوږدو کې دبيلابيلو بريدونو او وسلوالو حملو پرمهال (۱۸۸) ملکي کسان شهيدان او (۳۰۶) نور ټپيان شوي دي.

د ياد ګروپ د معلوماتو له مخې په تېره اپريل مياشت کې تر ټولو ډير تلفات په کابل کې اوښتي وو ،چې لويه پيښنه يې د دشتي برچي د کلا ناظرد سيمې پيښنه وه چې زياته مرګ ژوبله يې درلوده.

په دغه پيښنه کې ټول (۵۷) ملکي کسان شهيدان او (۱۱۹) نور ټپيان شول چې له دې جملې ۲۲ ميرمنې او ۸ ماشومان شهيدان شوي او دغه راز( ۵۲) نورې ښځې او ۱۷ماشومان ټپيان شول.

د روان ۲۰۱۸ زيږديز کال له پيل نه دملکي کسانو مرګ ژوبله مخ په زياتېدو ده په تيره اپريل مياشت کي د ملکي کسانو مرګ ژوبله نيږدې (۵۰۰) ثبت شوې ده چي ترهغه وړاندې مياشت (مارچ) کې ټول ټال (۴۴۳) ملکي کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه.

د ملکي وګړو د خونديتوب اوعدالت غوښتې ګروپ (CPAG) له لوري را ټول شوي معلومات ښيي چې په تيره اپريل مياشت کې د کابل خونړي ځانمرګي بريدونه چې پړه يې داعش ترهګرې ډلې په غاړه اخيستې وه وروسته تر دې چې ملکي کسانو ته ډېره مرګ ژوبله واوښتله دافغان ځواکونو له لوري هغه هوايې بريد و ، چي دکندز په دشتي ارچي ولسوالۍ کي ترسره شو.

هغه شمېرې چې د (CPAG) يا دملکي وګړو دخونديتوب اوعدالت غوښتنې ګروپ په لاس ورغلې دي، ښيې چې د کندوز په پېښه کي ټول۵۰ ملکي کسان شهيدان شوي وو ، چې ۲۰ تنه يې ماشومان وو او ۷۰ نور ملکي کسان ټپيان و.

د ملکي وګړو د خونديتوب اوعدالت غوښتې ګروپ (CPAG ) يوځل بيا په جګړه کې په ټولو ښکېلو غاړو غږ کوي چې د ملکي خلکو له وژنې لاس واخلي او له حکومت څخه غواړي چې ژر تر ژره دې د هغو کورنيو د ماشومانو د ژوند، تعليم او تحصيل په اړه فکر وکړي چې د کورنۍ سرپرستان يې په ترهګريزو پيښو کې له لاسه ور کړي دي.

پای